# اوټيزم څه شی دی؟

د مینیسوټا د اوټیزم ټولنې دا سرچینه د مینیسوټا ایالت د بشري خدمتونو ډیپارټمنټ د معلولیت خدمتونو څانګې په مرسته جوړه کړې ده.

اوټيزم د مغز پر فعالیت اغېزه کوي، او دا چې یو کس څنګه شاوخوا نړۍ درک کوي، خبرې کوي، فکر کوي او پوهېږي. د اوټيزم لرونکي خلک ځانګړي مغزونه لري. هیڅ دوه اوټيزم لرونکي کسان یو شان نه وي، یعنې موږ چې کوم مثالونه ورکوو دا پر ټولو خلکو نه تطبیقېږي.

## یو اوټيزم لرونکی کس څنګه چلند کوي؟

د اوټيزم لرونکي خلک ښايي د خپلو شاوخوا خلکو پر پرتله متفاوت چلند ولري. تاسو به دا توپیرونه په دوو اساسي برخو کې ووینئ:

**دوی څنګه خبرې کوي، اړیکې نیسي او ټولنیز چلند کوي.**

بېلګې:

- د معلوماتو د درک لپاره ډېر وخت ته اړتيا لري، د رسمیاتو یا لنډو خبرو له کولو تېرېږي
- د ملګرو پیدا کولو یا ساتلو کې ستونزه لري
- ښايي خبرې به نه کوي یا ټاکلي جملې تکراروي

**کړنې یا نظرونه تکراروي.**

بېلګې:

- لاسونه خوځوي یا ځان ښوروي، تل کارونه په یوه ځانګړي ترتیب ترسره کوي، له بدلون سره ستونزه لري
- یوازې څو ځانګړو موضوعاتو ته ډېره زیاته لېوالتیا لري

**تاسو ښايي دا هم وګورئ:**

- شدید غبرګونونه د حسي محرکاتو لکه لوړ غږ یا روښانه څراغونو پر وړاندې.
- د اوټيزم لرونکي کسان اکثراً مهارتونه په غیر متوازنه توګه رامنځته کوي: ښايي په یوه برخه کې ډېر استعداد ولري، خو په بله کې له ستونزو سره مخ وي.

# د اوټیزم په اړه حقایق



اوټیزم د ټول عمر لپاره وي: څوک چې اوټیزم ولري، له زیږون سره دا حالت لري او تل به یې ولري. خو دا معنی نه لري چې یو اوټیزم لرونکی کس پرمختګ نشي کولای.

کله چې اوټیزم لرونکي کسان ښه ملاتړ ترلاسه کړي، کولای شي یو ښایسته او بشپړ ژوند ولري. له همدې امله د ټول عمر په اوږدو کې ملاتړ ډېر مهم دی.

ملاتړ د هر کس لپاره متفاوت وي، او د اړتیا وړ ملاتړ ښایي د وخت په تېرېدو سره بدلون ومومي.

اوټیزم یوه ناروغي یا مرض نه دی، نو له یوه کس څخه بل ته نه لېږدول کېږي. هیڅ شواهد نشته چې وښیي اوټیزم له واکسین، خواړو یا خرابې روزنې څخه رامنځته کېږي. اوټیزم یو معلولیت دی. اوټیزم د بېلابېلو نژادونو، قومونو، شالیدونو، مذهبونو، جنسونو، ځایونو او نورو څخه خلک اغېزمنوي.
هر څوک کېدای شي اوټیزم ولري.

اوټیزم ځکه معلولیت بلل کېږي چې د اوټیزم لرونکي کس توپیرونه یاد کس له عادي کارونو یا ګډون کولو سره ستونزمن کوي. معلولیتونه نباید چې فزیکي وي.

**نور معلومات د**
**www.ausm.org له لاري**
**ترلاسه کړئ**